لوړو زده کړو وزارت

تابش پوهنتـــــون

څېړنو او علمي مجلو معاونیت

کتابتون مدیریت

# بریښنایي کتابتون څخه د استفادې طرزالعمل

کال:۱۴۰۴

بسم الله الرحمن الرحيم

1. سریزه

برېښنايي کتابتون د معلوماتي او مخابراتي ټکنالوژۍ له مهمو لاسته راوړنو څخه دی چې د علمي، څېړنيزو او ښوونيزو سرچينو لاسرسی يې چټک، اسانه او اغېزمن کړی دی. د برېښنايي کتابتون له لارې محصلان، استادان، څېړونکي او د ادارې نور کارکوونکي کولای شي هر وخت او له هر ځای څخه برېښنايي کتابونو، علمي مجلو، څېړنيزو مقالو، رسالو، تيزسونو، ډېټابېسونو او نورو علمي سرچينو ته لاسرسی ولري او د خپلو علمي او څېړنيزو اړتياوو لپاره ترې ګټه واخلي.

د برېښنايي کتابتون د خدماتو اغېزمنه، منظمه او قانونمند استعمال د دې اړتيا رامنځته کوي چې د سرچينو د کارونې، د کاروونکو د حقوقو او مکلفيتونو، د معلوماتو د خونديتوب، د فکري ملکيت د حقونو رعايت او د خدماتو د وړاندې کولو څرنګوالی د يوې روښانې طرزالعمل له مخې تنظيم شي.

دغه طرزالعمل د برېښنايي کتابتون د خدماتو د معياري کولو، د سرچينو د مؤثرې استفادې، د علمي امانتدارۍ د اصل د پياوړتيا، د کاپي رايټ د قوانينو د رعايت او د کاروونکو ترمنځ د مسؤلانه استفادې د فرهنګ د ودې په موخه ترتيب شوی دی. همدارنګه، دا طرزالعمل د برېښنايي کتابتون د مديريت، د کاروونکو د ثبت، د برېښنايي سرچينو د لاسرسي، د تخنيکي ملاتړ او د اړوندو اداري چارو لپاره واحد چوکاټ برابروي.

تمه کېږي چې د دې طرزالعمل په پلي کېدو سره به د برېښنايي کتابتون خدمات لا اغېزمن، شفاف او د نړيوالو علمي معيارونو سره سم وړاندې شي، او د علمي څېړنو، تدريس او زده‌کړې کيفيت به لا لوړ شي.

2. موخه

د دې طرزالعمل موخه د برېښنايي کتابتون د خدماتو د تنظيم، معياري کولو او اغېزمنې استفادې لپاره د روښانه اصولو او کړنلارو ټاکل دي، ترڅو استادان، محصلان، څېړونکي او د ادارې نور مستحق کاروونکي وکولای شي له برېښنايي علمي سرچينو څخه په قانوني، خوندي او مسؤلانه ډول ګټه واخلي.

د دې طرزالعمل ځانګړې موخې عبارت دي له:

1. د برېښنايي کتابتون د خدماتو د وړاندې کولو لپاره د واحدې او معياري کړنلارې رامنځته کول.
2. د برېښنايي کتابونو، علمي مجلو، څېړنيزو مقالو، ډېټابېسونو او نورو علمي سرچينو د اغېزمنې استفادې زمينه برابرول.
3. د برېښنايي کتابتون د کاروونکو حقوق، مکلفيتونه او مسؤليتونه روښانه کول.
4. د فکري ملکيت (Copyright) او علمي امانتدارۍ د اصولو رعايت تضمينول.
5. د برېښنايي سرچينو د امنيت، محرميت او قانوني استفادې لپاره مناسب ميکانيزم رامنځته کول.
6. د برېښنايي کتابتون د خدماتو کيفيت لوړول او د کاروونکو رضايت زياتول.
7. د تدريس، زده‌کړې او علمي څېړنو د پياوړتيا لپاره د معتبرو ملي او نړيوالو علمي سرچينو د لاسرسي اسانتيا برابرول.
8. د برېښنايي کتابتون د مديريت، تخنيکي ملاتړ او د خدماتو د ارزونې لپاره روښانه اداري چوکاټ رامنځته کول.
9. د معلوماتي ټکنالوژۍ د مؤثرې کارونې او ډيجيټلي زده‌کړې فرهنګ ته وده ورکول.
10. د برېښنايي کتابتون د سرچينو د دوامدارې ساتنې، پراختيا او اغېزمن مديريت لپاره لازم اصول ټاکل.

3. د تطبيق ساحه

دا طرزالعمل د برېښنايي کتابتون د ټولو خدماتو، برېښنايي سرچينو او اړوندو اداري او تخنيکي فعاليتونو د تنظيم لپاره وضع شوی او د هغو ټولو اشخاصو او واحدونو لپاره د تطبيق وړ دی چې د برېښنايي کتابتون له خدماتو څخه استفاده کوي يا د هغو په مديريت او وړاندې کولو کې ونډه لري.

د دې طرزالعمل د تطبیق ساحه په لاندې مواردو مشتمله ده:

1. د پوهنتون د ټولو پوهنځیو، علمي څانګو، څېړنیزو مرکزونو او اداري واحدونو برېښنايي کتابتوني خدمات.
2. د پوهنتون استادان، محصلان، څېړونکي، اداري کارکوونکي او نور هغه اشخاص چې د اړوندو مقرراتو له مخې د برېښنايي کتابتون د استفادې حق ولري.
3. د برېښنايي کتابونو، علمي مجلو، څېړنیزو مقالو، رسالو، تیزسونو، ډیجیټلي آرشیفونو، معلوماتي ډیټابېسونو او نورو برېښنايي علمي سرچینو کارونه.
4. د برېښنايي کتابتون د غړیتوب، کارن حساب جوړولو، ننوتلو، لټون، لاسرسي، ډاونلوډ او د سرچینو د قانوني استفادې ټولې کړنلارې.
5. د برېښنايي کتابتون د معلوماتي امنیت، محرمیت، د فکري ملکیت حقونو(Copyright) ، علمي امانتدارۍ او د معلوماتو د ساتنې اړوند ټول موارد.
6. د برېښنايي کتابتون د مدیریت، تخنیکي ملاتړ، ساتنې، ارزونې او پراختیا اړوند فعالیتونه.
7. د برېښنايي کتابتون د سرچینو د ناسمې استفادې، سرغړونو، شکایتونو او انضباطي اقداماتو د څېړنې او حل اړوند چارې.

دا طرزالعمل د پوهنتون د نافذه قوانینو، لوایحو او مقرراتو په رڼا کې پلي کېږي، او ټول مستحق کاروونکي او مسؤل واحدونه مکلف دي چې د دې طرزالعمل احکام په بشپړه توګه رعایت او عملي کړي.

4. اصطلاحات او تعریفونه

د دې طرزالعمل په موخه، لاندې اصطلاحات په لاندې معناوو کارول کېږي:

**١ .برېښنايي کتابتون:(Electronic Library)**

هغه ډیجیټلي معلوماتي سیستم چې د انټرنېټ یا داخلي شبکې (Intranet) له لارې برېښنايي کتابونه، علمي مجلې، څېړنیزې مقالې، رسالې، تیزسونه، ډیټابېسونه او نورې علمي سرچینې د کاروونکو لپاره د لاسرسي وړ ګرځوي.

**٢ .برېښنايي سرچینې:(Electronic Resources)**

ټولې هغه علمي او معلوماتي سرچینې چې په ډیجیټلي بڼه موجودې وي، لکه برېښنايي کتابونه(E-Books) ، برېښنايي مجلې-E) (Journals، علمي مقالې، ډیجیټلي آرشیفونه، ډیټابېسونه، ملټي‌میډیا او نور معلوماتي مواد.

**٣ . کاروونکی:(User)**

هر استاد، محصل، څېړونکی، اداري کارکوونکی یا بل مجاز شخص چې د برېښنايي کتابتون د خدماتو د استفادې قانوني حق ولري.

**۴ . د کارن حساب:(User Account)**

هغه ځانګړی برېښنايي حساب چې د برېښنايي کتابتون د خدماتو د استفادې لپاره هر کاروونکي ته ورکول کېږي او د کارن د پېژندنې او لاسرسي وسیله ګڼل کېږي.

**۵ .برېښنايي ډیټابېس:(Electronic Database)**

د علمي معلوماتو منظم او ډیجیټلي ذخیره چې علمي مقالې، کتابونه، احصایوي معلومات، راپورونه او نور علمي اسناد پکې ساتل کېږي او د لټون او استفادې وړ وي.

**٦ .ډیجیټلي آرشیف:(Digital Repository)**

هغه برېښنايي زېرمتون چې د پوهنتون علمي تولیدات، تیزسونه، رسالې، څېړنیزې مقالې، راپورونه او نور اسناد په ډیجیټلي ډول پکې خوندي کېږي.

**٧ . د فکري ملکیت حقونه:(Copyright)**

هغه قانوني حقوق چې د علمي، ادبي او هنري اثارو د لیکوال یا خپرونکي مالکیت او د غیرمجازې استفادې د مخنیوي لپاره وضع شوي وي.

**۸ .علمي امانتداري:(Academic Integrity)**

د علمي فعالیتونو پر مهال د رښتینولۍ، صداقت، د ماخذونو د سمې یادونې او د ادبي غلا (Plagiarism) څخه د مخنیوي اصل.

**۹ .ادبي غلا:(Plagiarism)**

د بل شخص د علمي، ادبي یا فکري اثر، نظریې، متن، معلوماتو یا څېړنې د اصلي سرچینې له یادولو پرته د خپل اثر په توګه وړاندې کول.

**۱۰ .لاسرسی:(Access)**

د برېښنايي کتابتون د خدماتو او سرچینو د لیدلو، لټون، لوستلو، ډاونلوډ یا قانوني استفادې حق.

**۱۱ .ډاونلوډ:(Download)**

له برېښنايي کتابتون یا اړوندو ډېټابېسونو څخه د برېښنايي فایلونو د قانوني ترلاسه کولو او خوندي کولو بهیر.

**۱۲ .برېښنايي مجله:(Electronic Journal)**

هغه علمي مجله چې په ډیجیټلي بڼه خپرېږي او د انټرنېټ یا برېښنايي ډېټابېسونو له لارې د لاسرسي وړ وي.

**۱۳ .برېښنايي کتاب:(Electronic Book – E-Book)**

هغه کتاب چې په ډیجیټلي بڼه خپور شوی وي او د کمپیوټر، ټابلیټ، مبایل یا نورو برېښنايي وسایلو له لارې لوستل کېږي.

**۱۴ .معلوماتي امنیت:(Information Security)**

هغه تخنیکي او اداري تدابیر چې د برېښنايي کتابتون د معلوماتو، سیسټمونو او کارن حسابونو د محرمیت، بشپړتیا او خوندیتوب لپاره نیول کېږي.

**۱۵ .د سیستم مدیر:(System Administrator)**

هغه مسؤل شخص یا تخنیکي کارکوونکی چې د برېښنايي کتابتون د سیستم د مدیریت، ساتنې، امنیت، تخنیکي ملاتړ او د کاروونکو د حسابونو د تنظیم مسؤلیت لري.

5. د برېښنايي کتابتون خدمات

برېښنايي کتابتون د پوهنتون د علمي، څېړنیزو او ښوونیزو فعالیتونو د پیاوړتیا په موخه، د معلوماتي ټکنالوژۍ له لارې بېلابېل برېښنايي خدمات وړاندې کوي. دغه خدمات د استادانو، محصلانو، څېړونکو او نورو مستحق کاروونکو د علمي اړتیاوو د پوره کولو لپاره طرحه شوي او د نافذه مقرراتو له مخې وړاندې کېږي.

د برېښنايي کتابتون مهم خدمات په لاندې ډول دي:

1. **برېښنايي کتابونو (E-Books) ته لاسرسی:**

   د بېلابېلو علمي څانګو اړوند برېښنايي کتابونو لوستل، لټول او د نافذه مقرراتو سره سم ترې استفاده.

2. **علمي مجلو او څېړنیزو مقالو ته لاسرسی:**

   د ملي او نړیوالو علمي مجلو، څېړنیزو مقالو او علمي خپرونو څخه د استفادې زمینه برابرول.

3. **علمي ډېټابېسونو ته لاسرسی:**

   د معتبرو ملي او نړیوالو ډېټابېسونو له لارې د علمي معلوماتو، مقالو، راپورونو او نورو څېړنیزو سرچینو برابرول.

4. **د پوهنتون ډیجیټلي آرشیف خدمات:**

   د پوهنتون د علمي تولیداتو لکه مونوګرافونو، تیزسونو، رسالو، علمي مقالو، څېړنیزو راپورونو او نورو علمي آثارو ساتنه او لاسرسی.

5. **د معلوماتو لټون او موندنې خدمت:**

   د پرمختللو لټونیزو وسیلو له لارې د اړینو علمي سرچینو په موندلو کې د کاروونکو مرسته.

6. **د برېښنايي سرچينو ډاونلوډ او مطالعه:**

د جواز او د کاپي رايټ د اصولو په رعايت سره د برېښنايي اسنادو لوستل، ذخيره کول او ډاونلوډ

7.

.

8. **د مراجعينو لارښوونه او مشوره:**

کاروونکو ته د برېښنايي کتابتون د سيستم، ډېټابېسونو او علمي سرچينو د کارونې په اړه لارښوونه او مسلکي مشورې ورکول.

9. **د علمي څېړنو ملاتړ:**

د څېړونکو لپاره د معتبرو علمي سرچينو، استنادي معلوماتو (References) او څېړنيزو موادو د موندلو په برخه کې همکاري.

10. **د معلوماتي سواد (Information Literacy) روزنيز پروګرامونه:**

د استادانو، محصلانو او څېړونکو لپاره د برېښنايي سرچينو د اغېزمنې استفادې، علمي لټون، د استناد طريقو او علمي امانتدارۍ په اړه روزنيز ورکشاپونه او سيمينارونه.

11. **تخنيکي ملاتړ:**(Technical Support)

د کاروونکو د ننوتلو، کارن حساب، د لاسرسي ستونزو او نورو تخنيکي مشکلاتو حل او ملاتړ.

12. **له لرې واټن څخه لاسرسی:**(Remote Access)

د امکان په صورت کې، مجاز کاروونکو ته د انټرنېټ له لارې د پوهنتون له چاپېريال څخه بهر د برېښنايي سرچينو د استفادې اسانتيا برابرول.

13. **د نوو علمي سرچينو معرفي کول:**

د نويو برېښنايي کتابونو، مجلو، ډېټابېسونو او علمي سرچينو په اړه د کاروونکو خبرول او معرفي کول.

14. **د خدمتونو ارزونه او پراختيا:**

د کاروونکو د نظرياتو راټولول، د خدماتو ارزونه او د اړتياوو پر بنسټ د برېښنايي کتابتون د خدماتو دوامداره ښه کول.

د برېښنايي کتابتون ټول خدمات د پوهنتون د نافذه مقرراتو، د فکري ملکيت د حقونو، د معلوماتو د محرميت او علمي امانتدارۍ د اصولو په رعايت سره وړاندې کېږي.

6. د برېښنايي سرچينو لټون (Search)

د برېښنايي کتابتون د اساسي خدماتو له ډلې څخه يو هم د علمي سرچينو لټون دی. د لټون سيستم کاروونکو ته دا زمينه برابروي چې د خپلو علمي، ښوونيزو او څېړنيزو اړتياوو سره سم برېښنايي کتابونه، علمي مقالې، مجلې، تيزسونه، رسالې، ډېټابېسونه او نورې اړوندې سرچينې په چټک، دقيق او اغېزمن ډول ومومي.

### ٦,١ د لټون ډولونه

کاروونکي کولای شي د برېښنايي کتابتون په سيستم کې له لاندې لارو څخه استفاده وکړي:

1. **بنسټيز لټون:**(Basic Search)

د کتاب، مقالې، ليکوال، موضوع يا کليدي کلمې (Keyword) له لارې ساده لټون.

2. **پرمختللی لټون:**(Advanced Search)

د څو معيارونو لکه عنوان، ليکوال، موضوع، د خپرېدو کال، ژبه، خپرندوی، ISBN/ISSN او نورو ځانګړتياوو له مخې دقيق لټون.

3. **د موضوع له مخې لټون:**(Subject Search)

د علمي څانګو او موضوعاتو پر بنسټ د اړوندو سرچينو موندل.

4. **د ليکوال له مخې لټون:**(Author Search)

د ځانګړي ليکوال يا څېړونکي د آثارو موندل.

5. **د عنوان له مخې لټون:(Title Search)**
د کتاب، مقالې یا مجلې د عنوان له مخې د سرچینې موندنه.

## ۶,۲ د لټون اصول

کاروونکي مکلف دي چې د لټون پر مهال لاندې اصول رعایت کړي:

1. د لټون لپاره مناسبې او اړوندې کلیدي کلمې وکاروي.
2. د پرمختللي لټون له فلټرونو څخه د دقیقو پایلو د ترلاسه کولو لپاره ګټه واخلي.
3. یوازې د علمي، ښوونیزو او څېړنیزو موخو لپاره سرچینې ولټوي.
4. د برېښنایي کتابتون د سیستم د عادي فعالیت د ګډوډولو سبب نه شي.

## ۶,۳ د لټون پایلو کارول

1. کاروونکي کولای شي د لټون پایلې د عنوان، لیکوال، موضوع، د خپرېدو نېټې او اړوندتیا (Relevance) له مخې تنظیم کړي.
2. د سرچینو لنډ معلومات، بشپړ متن، د استناد معلومات (Citation) او د لاسرسي وضعیت د سیستم له لارې لیدل کېدای شي.
3. د جواز شرایطو ته په کتو سره، کاروونکي کولای شي سرچینې مطالعه، ډاونلوډ یا چاپ کړي.

## ۶,۴ د لټون د خدمت مسؤلیت

1. د برېښنایي کتابتون اداره مکلفه ده چې د لټون سیستم په دوامداره توګه فعال، دقیق او د کاروونکو لپاره د لاسرسي وړ وساتي.
2. د کتابتون مسؤلین باید د لټون د مهارتونو په اړه کاروونکو ته لازمې لارښوونې او تخنیکي مرستې برابرې کړي.
3. د لټون سیستم باید د معلوماتو د امنیت، محرمیت او د فکري ملکیت د حقونو له اصولو سره سم مدیریت شي.

## ۶,۵ محدودیتونه

1. د لټون له لارې ترلاسه شوې سرچینې باید یوازې د قانوني او علمي موخو لپاره وکارول شي.
2. د لټون سیستم څخه د غیرمجازو پروګرامونو، اتوماتیکو وسیلو (Bots) یا هر ډول تخنیکي وسایلو په وسیله د معلوماتو ډله‌ییز راټولول منع دي.
3. هر ډول استفاده باید د برېښنایي کتابتون د نافذه مقرراتو او د فکري ملکیت د حقونو په رعایت ترسره شي.

7. د برېښنایي کتابونو، مقالو او مجلو څخه استفاده

د برېښنایي کتابتون ټولې علمي سرچینې د تدریس، زده‌کړې، علمي څېړنو او مسلکي پرمختګ د ملاتړ لپاره برابرې شوې دي. ټول مستحق کاروونکي مکلف دي چې له دغو سرچینو څخه د نافذه قوانینو، د فکري ملکیت د حقونو(Copyright) ، د جواز (License) شرایطو او د علمي امانتدارۍ د اصولو په رعایت سره استفاده وکړي.

## ۷,۱ د استفادې شرایط

1. یوازې ثبت شوي او مجاز کاروونکي حق لري چې د برېښنایي کتابونو، علمي مقالو او مجلو څخه استفاده وکړي.
2. کاروونکي باید د خپل شخصي کارن حساب له لارې برېښنایي سرچینو ته لاسرسی ومومي.
3. د برېښنایي سرچینو استفاده باید یوازې د علمي، ښوونیزو او څېړنیزو موخو لپاره وي.
4. د سرچینو کارونه باید د پوهنتون د نافذه مقرراتو او د سرچینو د خپرونکو د جواز له شرایطو سره سم ترسره شي.

### ۷,۲ د استفادې څرنګوالی

کاروونکي کولای شي:

1. برېښنايي کتابونه، علمي مقالې او مجلې په آنلاین ډول مطالعه کړي.
2. د جواز د شرایطو له مخې، د اړتیا وړ سرچینې ډاونلوډ او د شخصي علمي استفادې لپاره خوندي کړي.
3. د سرچینو د لټون، نښه کولو(Bookmark) ، استناد (Citation) او چاپ (Print) له هغو امکاناتو څخه ګټه واخلي چې سیستم يې اجازه ورکوي.
4. د اړتیا په صورت کې د کتابتون له مسؤلینو څخه د سرچینو د موندلو او استفادې په اړه تخنیکي مرسته ترلاسه کړي.

8. د معلوماتو د ډاونلوډ، چاپ او شریکولو اصول

د برېښنايي کتابتون له لارې ترلاسه کېدونکي علمي سرچینې د فکري ملکیت د حقونو(Copyright) ، د خپرونکو د جوازونو (License Agreements)او د پوهنتون د نافذه مقرراتو له مخې کارول کېږي. ټول کاروونکي مکلف دي چې د معلوماتو د ډاونلوډ، چاپ او شریکولو پر مهال د قانوني، اخلاقي او علمي اصولو رعایت وکړي.

### ۸,۱ د معلوماتو ډاونلوډ

1. کاروونکي کولای شي د برېښنايي کتابتون له سرچینو څخه یوازې هغه اسناد ډاونلوډ کړي چې د جواز له مخې ورته اجازه ورکړل شوې وي.
2. ډاونلوډ شوي اسناد باید یوازې د شخصي، علمي، ښوونیزو او څېړنیزو موخو لپاره وکارول شي.
3. د برېښنايي سرچینو ډلهییز (Mass Download) یا اتوماتیک ډاونلوډ د ځانګړو پروګرامونو، سافټویرونو یا روبوټونو (Bots) له لارې منع دی.
4. کاروونکي باید د ډاونلوډ شوو اسنادو اصلي بڼه، د لیکوال نوم او د خپرندوی معلومات بدل نه کړي.

### ۸,۲ د معلوماتو چاپ

1. د اړتیا په صورت کې، کاروونکي کولای شي د جواز د شرایطو سره سم د علمي استفادې لپاره محدود شمېر پاڼې یا اسناد چاپ کړي.
2. چاپ شوي اسناد باید یوازې د تدریس، زده‌کړې او علمي څېړنو لپاره وکارول شي.
3. د چاپ شوو اسنادو سوداګریزه استفاده، بیا چاپ یا پلور په هر ډول منع دی.
4. د چاپ پر مهال باید د اصلي سرچینې بشپړ معلومات او استناد خوندي وساتل شي.

### ۸,۳ د معلوماتو شریکول

1. کاروونکي حق نه لري چې د برېښنايي کتابتون د جواز لرونکي کتابونه، مقالې، مجلې یا نور اسناد په بشپړ ډول له غیرمجازو اشخاصو سره شریک کړي.
2. د علمي همکارۍ په موخه یوازې د سرچینې لینک(Link) ، DOI، یاCitation Bibliographic معلومات شریکول جواز لري، تر هغه چې د خپرونکي د جواز له شرایطو سره په ټکر کې نه وي.
3. د برېښنايي سرچینو د ټول یا یوې مهمې برخې خپرول په ټولنیزو رسنیو، وېبپاڼو، برېښنالیکونو یا نورو عامه شبکو کې د خپرندوی د اجازې پرته منع دي.
4. د پوهنتون د داخلي علمي فعالیتونو لپاره د سرچینو کارول باید د نافذه مقرراتو او د فکري ملکیت د حقونو په رعایت ترسره شي.

د تابش پوهنتون د له بریښنايي کتابتون څخه د استفادی طرزالعمل د پوهنتون علمي شورا په (۱) ګڼه پروتوکول (۱۴۰۲/۰۱/۰۸) نېټه کې،ثبت او د تطبیق وړ ده.